## مطبوعاتي اعلاميه

### آزادو شويو سيمو ته د لاريونونه يو ځل بيا راګرځېدل د پاڅون د ټينګښت او ثبات څرګندونه کوي



د ۲۰۱۸م کال د سپټمبر پر۷ د شام هوډمن خلک د جمعې د لمانځه تر ادایني وروسته، د لاريونونو په موخه لارو او کوڅو ته را ووتل. د دوی دا حرکت د دې څرګندونه کوي، چې د دوی په سينو کې لا د پاڅون لمبې بلې دي او نه دي مړې شوي او د غرونو په څېر ټينګې او ثابتې پاتې دي.

له شکه پرته داسې خوځښتونه د عامه رايې په رهبري کې خورا اهميت لري او ان د ظالمو رژيمونو په ملاتړ يا له منځه وړلو کې ستر رول لوبوي. په دمشق کې د شام پاڅون د سپېڅلې انګېزې پر بنسټ د لاسپوڅي رژيم پر وړاندې راپورته شو. دغه پاڅون د رژيم مشروعيت له منځه يووړ او ان د دغه رژيم ستنې يې ولړزولې، له دې امله نړيواله ټولنه وهڅېدله چې د لاسپوڅي جنايتکاره رژيم د ملاتړ لپاره په دمشق کې لاس په کار شي او رژيم ته يو ځل بيا مشروعيت ور په برخه کړي. د نړۍ سترو هيوادونو له کلونو راهيسې د شام پاڅون پر وړاندې دسيسې جوړولې، څو د خپلو نه ستړې کېدونکو هڅو پر مټ نوموړی پاڅون اداره او لوری يې ور بدل کړي.

دا له چا پټه پاتې نه ده، چې د شام پاڅون هم په نظامي او هم په ټولنيزه برخه کې له ماتې او زيانونو سره مخ شو، ځکه خپلې پرېکړې يې په نړيوالې ټولنې او ملاتړ کوونکو هيوادونو پورې وتړلې، چې له امله يې د پاڅوانوالو پرېکړې محدودې

شوې، لوری یې بدل شو او پاڅون وال یې دې ته اړ کړل، چې له خپلو ځینو اساسي غوښتنو تېر شي. په پایله کې پاڅوانوال ناهیلي شول او جنایتکاره رژیم وژغول شو.

د یوه نوي عمومي خوځښت لپاره دا اړینه وه چې په پوره پاملرنې سره یې ګام اخستی وای، د هغو تباه کوونکو خطاګانو له بیا ځلې تکرار څخه یې ډډه کړې وای چې په تېر کې یې ترسره کړې وې، په سوریه کې د ښکېلو هیوادونو په ګټه د پرېکړو په اړه خبر وای یا د هغو غوښتنو، موخو یا شعارونو په اړه یې پوهاوی لرلی چې د دغو هیوادونو له لوري پر مخ وړل کېږي.

له دې امله نوی خوځښت باید خپل ځان اصلي موخې ته له انحراف څخه وژغوري، ترڅو د شام وګړي خپلې سترې سرښندنې او قربانۍ له لاسه ور نه کړي. هغه څو ټکي چې د یو خوځښت او پاڅون په پیاوړتیا کې مرسته کوي، په لاندې ډول یې بیانوو:

۱: د یوه څرګند پلان او پروژې شتون اړین دی، چې پر مټ یې خلک یو موټي شي. نوموړی پلان باید د دوی له عقیدې سره سم غوره شي، څو دوی یووالي ته وهڅوي، خبره یې یوه کړي او موخې یې څرګندې کړي. د محاسبې لپاره داسې معیار غوره شي چې پر بنسټ یې هیڅوک د دې توان و نه لري چې د خوځښت له موخو څخه مخ واړوي یا یې لوری بدل کړي.

۲: د پاڅون لپاره اړینه ده چې په راس کې له یو هوښیار او رښتینې سیاسي مشرتابه څخه برخمن وي، ترڅو کړنې یې د موخو په ترلاسه کولو کې اغېزمنې ثابتې شي او له عملي پلوه یې پلان او پروژه د یو نظام په اډانه کې پلې شي.

۳: د پاڅوانوالو لپاره اړینه ده چې د پاڅون اصول (اساسات) په کلکه عملي کړي، چې د اوږدې مبارزې په ترڅ کې یې اصول خورا څرګند دي او هغه دا دي، چې د اوسني رژیم سټه او جرړې به له بېخه لرې کوي، له هغو ملاتړو هیوادونو سره به اړیکې پرې کوي، چې په وینا یې د پاڅون مرسته کوونکي ګڼل کېږي او پر ځای به یې له نبوي طریقې سره سم راشده خلافت رامنځته کوي.

دا خبره روښانه ده، چې پاڅون اوس هم رغنده رول لري او له مصونیت څخه برخمن دی، هیڅوک به ونه شي کولی چې نامشروع ګټه ورڅخه واخلي یا یې له خپلې کړنلارې څخه لوری بدل کړي، ځکه د خپلو بنسټیزو اصولو پر بنسټ د موخو ترلاسه کولو لپاره یې په پرله پسې توګه هڅې نه بدلېدونکې دي.

ښکېلاکي کفري هیوادونو یو په بل پسې د شام د ربنتیني ولس او پاڅون پر وړاندې سترې دسیسې جوړې کړې دي. موږ یې باید په اړه خبر وو، ترڅو له پوره چمتوالي سره یې په لومه کې ونه نښلو، د ستر رب پر قانون منګولې خښې کړو، پر ستر رب توکل وکړو او پر خپلو سپېڅلو موخو کلک پاتې شو. په همدې کې زمونږ لپاره خلاصون، آزادي او بریا شته.

الله تعالی فرمایي:

**(وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ)**

[ ابراهیم:۴٦-۴۷]

*ژباړه: هغوی خپلې ټولې دسیسې وکارولې، خو د هغوی د هرې دسیسې له منځه وړل له الله سره دي؛ سره له دې چې د هغوی چلونه دومره پیاوړي دي چې غرونه یې له ځایه بې ځایه کېږي. نو اې پېغمبره! ته هیڅکله دا ګومان مه کوه چې الله به له خپلو پېغمبرانو سره د کړو وعدو پر خلاف کار وکړي. الله برلاسی او غچ اخستونکی دی.*

**د حزب التحریر - ولایه سوریې د مطبوعاتي دفتر مشر**

**احمد عبدالوهاب**

**ژباړن: حمزه خالد**

**No: 1439/011 AH**

**۱۴۴۰هـق، د ذوالحجې ۲۹مه**

**۲۰۱۸م، د سپتمبر ۹مه**